لباس برای نیازمندان
Clothes for Poor
د اړمنو لپاره جامې

627 کور، 10 سړک، کارته سه، کابل

اړیکشمېره: ۰۷۹۷۸۰۸۰۸۳

clothesforpoor@yahoo.com

www.facebook.com/clothesforpoor

مطبوعاتي اعلاميه

شمېره: ۱۵/۱
۱۴ جنوري، ۲۰۱۵

له اړمنو کورنيو سره د کالیو مرسته

کابل مېشتو ځوانانو، چې د زړو جامو د راغونډولو یو نوښت یې کړی و بالاخره یې د کابل له اتو ځایونو څخه 2244 جوړې جامې راغونډې کړې او دا دی نن یې له 600 څخه په ډېرو کسانو وېشي.

څو تنه ځوانان چې غوښتل یې له بېلابېلو لارو له خپل ولس سره مرسته وکړي، دا ځل یې د زړو جامي د راغونډولو او بېرته یې په اړمنو کورنیو د وېشلو هڅه کړې، چې د لیندۍ یا قوس په ۲۸ مه او ۲۹ مه یې د کابل په اتو ځایونو کې (کوټه سنګي، دهن باغ، سلیم کاروان بلاکونه، حصه اول خیرخانه، دریم مکروریان، زاړه مکروریان او کارته نو دریم سړک) یې د دوو ورځو لپاره خېمې لګولې وې، چې له خلکو زړې جامې راغونډې کړي، دا کار په خپل وخت په ډېر ښه ډول ترسره شو، چې د راغونډولو وروسته یې دغه جامې پاکې ومینځلې او په پاکټونو کې یې ځای پرځای کړې، چې بېرته یې په اړمنو کورنیو وویشي.

د اړمنو کورنیو انتخاب هم د یوه ځانګړي سروې له لارې شوی دی، چې د هماغې سیمې چېرې چې زاړه کالي په کې راغونډ شوي دي، هلته د سیمې له خلکو او مشرانو نه د اړمنو کورنیو لستونه اخیستل شوي دي او بیا د یوې پوښتنپاڼې او ارزوني وروسته تر ټولو اړمني کورنۍ په نښه شوي دي او هغوی ته د هغوی د کورنیو د غړو د شمېر سره سم هومره جامې ورکول کېږي. په دې لومړي وېش کې مو تر سلو ډېرې کورنۍ په پام کې نیولې دي، چې د هرې کورنۍ اوسط مو شپږ تنه تخمین کړی دی او د اړمنو کورنیو ټولو غړو ته به دا جامې ورکول کېږي.

د دغو ځوانانو مشر خالد ناظري وویل: مږ د دغو هڅو له مخې ټولټال 2244 جوړه جامې، چې 869 یې نارینه، 773 یې ښځینه، 443 یې د ماشومانو او 159 جوړه یې (خولۍ، پکول، مفلرونه، پټو او دستمالونه) دي او دا ټوله پروسه د 25 تنو خپلخوښو ځوانان له لارې پرمخ یوړل شوه. ښاغلي ناظري زیاته کړه، چې مږ غواړو له دې لارې خلکو ته وښیو، چې لا هم شته دي داسې ځوانان چې د بشري مرستو هیلې لري او غواړي له خپلو اړمنو کسان سره مرسته وکړي.

سږ او وژونکی ژمی هر کال زمږ د ډېرو هېوادوالو ژوند له خطر سره مخ کوي، مږ د همدې خطر سره د مبارزې په پار دا ځل دا هڅه وکړه او وموغوښتل له خپلو هېوادوالو سره له دې لارې مرسته وکړو، چې له یوې خوا چارواکي ورته پام وکړي او له بلې خوا خلکو ته وښیو، چې لا هم زمږ هېوادوالو کې دا حس شته دی، چې له خپلو نورو اړمنو خلکو سره مرسته وکړي، مږ یوازې یوه زمینه سازي کړې ده، کنه دا ټولې مرستې په خپله د خلکو دي او مږ د خپلو یو شمېر هېوادوالو مرستې په نورو وېشو.

د وېش دا لړۍ د چهارشنبه په ورځ چې د مرغومي 24 مه یا د جنوري ۱۴ مه کېږي د ماسپښین په دوو بجو پیلېږي، د دې لړۍ د پیل په پار مو د یوې مطبوعاتي ناستې تابیا هم کړې ده، چې رسنوال کولای شي، د خبري پوښښ په پار تشریف راوړي.

د لا ډېرو معلوماتو لپاره:
رفیع الله ستانکزی
+93788308908
clothesforpoor@yahoo.com
www.facebook.com/clothesforpoor